پوهندوی آصف بهاند

# د ډاکټر سید شیراقا حرکت

## د علمي فرهنګي ژوند لنډ جاج

**په دې وروستیو وختو کې په افغانستان او د هغې د باندې ډېرې خپروني خپرېږي. هغه څوک چې په ایمانداری سره دغه کار سرته رسوي، موږ يې هرکلی کوو. د دغو خپرونو په سرخطونو کې معمولاً لیکل کېږي: بې‌طرفه، ازاده، مستقله، ملي، اسلامي او داسې نور. موږ ټولې دغه ډول پدیدې نسبي ګڼو، ځکه د لومړی ورځې څخه وایو چې موږ هېڅکله بېطرفه نه یو. موږ ټاکلی او مشخص هدف، طرف او ارمان لرو. زموږ طرف د هرڅه د مخه زموږ ګران هېواد افغانستان دی، افغان اولس، د هغوی ملي‌ګتې، منلي رسوم، عنعنات، عقاید او مقدسات او وروسته له هغې بین‌المللي او عام انساني تعلقات او تعهدات دي چې په پوره ایمانداری سره به د هغې پلوي او دفاع کوو او نور به هم دې کار ته اړباسو.**

ډاکټر شیراقا حرکت



«داکتر سید شیر آقا «حرکت» شخصیت مهربان، دلسوز،
عادل، اخلاصمند، علمی، فرهنگی، سیاسی و اکادمیک
بود و در نویسندگی توانایی و استعداد
خارق العاده داشت.»
(مولانا سعید افغاني)

که څوک په ژوره توګه د ډاکترسید شېراقا حرکت ژوند، زدکړې، ترسره کړي کارونه او لیکلي اثار وڅېړي، نو پوه به شي چې د خدایبښلی حرکت شخصیت څو اړخونه لرل چې په هره برخه کې وياړمن کارونه ترسره کړي او اثار ورنه په میراث پاتې دي. زما څېړني داسې ښیي چې ښاغلي حرکت د خپل علمي ـ فرهنګي ژوند په اوږدو کې په لاندې برخو کې فعال پاتې شوی و:

**ـ ښوونکی حرکت،**

**ـ د تخنیکي علمو متخصص حرکت،**

**ـ فلسفي حرکت،**

**ـ لیکوال حرکت،**

**ـ ژورنالست حرکت.**

خو تر هرڅه مخکې د شېراقا حرکت بیوګرافي:

د ډاکتر سید شیراقا حرکت په بیوګرافي پسې وګرځېدم، په انلاین بڼه مې پیدا نه شوه کړلی. د دې مقالې د لیکلو په غرض مې چې څه مواد د ده د درنې کورنۍ په مرسته ترلاسه کړي وو، د هغو په ډله کې د ده په یو کتاب (سیاسي فلسفه) کې د ده لنډه شان بیوګرافي راغلې وه، ما دا لاندې لنډه بیوګرافي له هغو موادو نه په استفادې سره برابره کړې ده:

«شیراقا حرکت د ۱۳۲۲ ام لمریزل کال د قوس میاشتې په څوارلسمه (۱۴مه) د کونړولایت په مزار دره کې زېږېدلی دی. پلار یې سیدمیاګل د سید عبدالرزاق زوی و.

ډاکتر حرکت لومړنی زدکړې د مزاردرې په لومړني ښوونځی کې ترسره کړې او بیا یې دولسم ټولګی په اعلی درجه د ننګرهار په لیسه کې پایته ورساوه او د کابل په طب پوهنځي کې یې لوړې زدکړې پیل کړې، خو وروسته ترشپږ میاشتو د اوکراین پلازمینې کیف هوايي پوهنتون ته د لوړو زدکړو لپاره واستول شو. هلته یې خپلې زدکړې په تخنیکي علومو کې په ډېرې مینې سره پیل او خپله ماستري یې په داسې حال کې ترلاسه کړه چې سور ډیپلوم او طلا مډال ورسره مل و، بیا د خپل وطن او هېوادوالو ته د چوپړ په موخه بېرته وطن ته راستون شو او په هوايي نظامي پوهنځي کې یې د وطن د نوي نسل د روزلو په موخه د استاد په توګه دنده پیل کړه.



ډاکټر شیراقا حرکت د خپل تدریسي دندې په ترڅ کې د «ایروډینامک او ډینامیک د پرواز» کتاب تالیف کړ چې په ۱۳۵۲ هـ لمریز کال کې د ملي دفاع وزارت په مطبعه کې چاپ او د لوستونکو د مطالعې لپاره وړاندې شو. دی په هوایي پوهنځي کې د خپلو صادقانه خدمتونو په ترڅ کې، د هوایي پوهنځي د قومندانۍ تر چوکۍ هم ورسید.

له خپل مسلک او زدکړو سره د ډېرې مینې له مخې په ۱۳۵۵ ل ل کال کې د ډوکتورا د ترلاسه کولو په موخه بیا اوکراین ته ولېږل شو. ښاغلی حرکت د خپل مسلک ترڅنګ له ټولنیزو علومو سره هم ځانګړې مینه درلوده، له ټولنیزو علومو سره د مینې له مخې یې د خپل مسلک تر څنګ، په ټولنیزو علومو کې هم زدکړې پیل کړې. په دې هکله ده په خپله داسې ویلي دي:

«زه چې له پخوا څخه هم له ټولنیزو علومو سره بې علاقې نه وم، لا د مخه مې تصمیم درلود چې په همدغه یوه وخت کې به په موازي بڼه په ټولنیزو او تخنیکي علومو دواړو کې د ډوکتورا پر تېزس کار کوم. په ټولنیزو علومو کې د زیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو په خاطر، د اوکراین د ټولنیزو علومو په دولتي پوهنتون کې شامل او تر دوه‌کاله زدکړو وروسته، اعلی درجه دیپلوم ترلاسه او ورسره سم مې د دوکتورا پر تېزس کار پیل کړ.

دغه وخت زما لپاره ډېر مناسب ځکه و چې ما په تخنیکي علومو کې د دوکتورا کارونه سرته رسولي وو او یوازې دفاع یې پاتې وه. په همدغه وخت کې په افغانستان کې د ۱۳۵۷ کال سیاسي نظامي بدلون رامنځته شو او ما خپله ټوله پاملرنه په تخنیکي علومو کې د خپل تیزس دفاع ته واړوله او د سرطان په میاشت کې مې له خپل تیزس نه دفاع وکړه او څو ورځې وروسته کابل ته لاړم. کابل ته له رسېدو سره سم، د کابل د ښاروال په توګه وګمارل شوم. دا درنه دنده ما په صداقت او وطني مینې ترسره کړه، خو کله چې افغانستان ته د روسانو په راتګ سره هرڅه بدل شول، زه په کور کېنول شوم.»

(حرکت ډاکترسیدشېراقا، سیاست د سیالانو لوبه (سیاسي فلسفه)، چاپځای: اسددانش مطبعه، کابل، دویم چاپ، ۱۳۹۰ل/ ۲۰۱۱ز کال، کتاب د پای په دوو مخونو کې د لیکوال راغلي بیوګرافي)

د ښاغلي ډاکتر سید شېراقا حرکت دا لاندې بیوګرافي د ده د کورنۍ د یوې نږدې غړې شاه‌جان هاجره حرکت له خوا لیکل شوې ده چې زه یې کټ‌مټ دلته ړدم:

**«د ډاکټر شیراقا حرکت لنډه پېژندنه:**

سید شیراقا حرکت د کونړ ولایت د مزار درې په یوه روحاني کورنۍ کې، د ۱۳۲۲ هجري لمریز کال د قوس میاشت په ۱۴ امه نیټه، چې د ۱۹۴۳ م کال د دسمبر میاشت له له ۵ امې نیټې سره سمون لري، زیږیدلی دی. پلار یې سید میاګل د سید عبدالرزاق زوي، په خټه سید او موریې بي‌بي امنه د مولوي محمد هاشم لور، چې په سیمه کې مشهور مدرس، مؤذون او دیني عالم و، هغه هم، په خټه پښتون او ساپي قوم د موسي خیلو د باړیزو په پښه پورې اړه درلوده.

ډاکټر حرکت د مزار درې په لومړني ښوونځي کې تر شپږم ټولګی زده کړې کړې دي، وروسته بیا د ننګرهار په لیسه کې شامل شوی چې د ښوونځي او لیسې دواړو څخه په لومړۍ اعلي درجه، له بري لیک تر لاسه کولو وروسته، چې لایقه زده کونکي به د طب پوهنځي له پاره غوره کیدل، دې هم د خپل لیاقت او لوړې وړتیا لرلو له کبله د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې شامل شو، چې لا یې شپږ میاشتې په (ام پي سي بي) کې نه وې پوره کړې، د پخواني شوروی اتحاد د اوکراین جمهوریت مرکز کیف ښار هواې پوهنتون ته د لوړو زده کړو له پاره واستول شو.

په دغه پوهنتون کې له شپږ کلنی دورې تحصیل او په تخنیکي علومو کې د ماسترۍ د اعلي درجه سور دیپلوم او د سروزرو مدال په اخیستلو سره خپل وطن ته راستون او په هواي نظامي پوهنځي کې یې د استاد په توګه په دنده پیل وکړ. په هواي پوهنځي کې یې د پیلوټانو، تخنیکرانو محصلینو او

د «ج» د کورس هواي افسرانو ته د تدريس تر څنګ د ګڼو تحقيقي مقالو تر څنګ د «ايرو ديناميک او د پرواز ديناميک» تدريسي کتاب تاليف او په ۱۳۵۲ هجري لمريز کال کې د ملي دفاع وزارت په مطبعه کې چاپ او د ټولو هواي افسرانو له پاره د ګټې اخيستنې وړ وګرزيد.

سيد شيراقا حرکت په ۱۳۵۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې په ۲۶ مه نيټه د شاهي نظام په جمهوري ولسی نظام د بدليدو په سياسي بدلون کې د فعالې ونډې په درلودلو سره، دوه فوق العاده رتبې ترلاسه، د جګړنی رتبې ته يې ترفيع وکړه او د هواي پوهنځي د قوماندان په توګه په دنده وګمارل شو. په ۱۳۵۵ هجري لمريز کال کې سيد شيراقا حرکت يو ځل بيا د دکتورا له پاره د اوکراين جمهوريت د کيف ښار ته واستول شو، چې تر څنګ يې په ټولنيزو علومو کې هم تحصيل پيل کړ.

دی په خپله په دې هکله وايي:

«زه چې له پخوا څخه هم بې علاقې نه وم، لا دمخه مې تصميم درلود چې په همدغه يو وخت کې په موازي توګه په ټولنيزو او تخنيکي علومو دواړو کې د دکتورا پر تيزس کار کوم.»

دغه راز نوموړي په يو وخت کې دواړه رشتو کې خپل تحصيل بشپړاوه. دی زياتوي:

«د زياتو معلوماتو تر لاسه کولو له پاره د اوکراين د ټولنيزو علومو په دولتي پوهنتون کې شامل او له دوه کاله تحصيل وروسته مې په اعلا درجه ډيپلوم ترلاسه کړ، چې ورسره سم مې په فلسفه کې د دکتورا تيزس کار هم پيل کړ، دغه وخت زما له پاره مناسب ځکه و چې د خپلې لومړۍ ډاکترۍ کارونه مې سر ته رسولي وو.»

د ده په خبره، په انجينرۍ کې يې ډاکترۍ دفاع کړه او په فلسفه کې يې د ډاکترۍ تيزس بشپړ کړ، چې يوازې دفاع يې پاتې وه. په همدې مهال په هېواد کې د ثور اوومې نيټې اوښتون رامنځته شو او له بهر څخه ډېر شمير محصلين هېواد ته غوښتل شوي وو، چې دی هم په دغه ډله کې د سرطان په ۲۶ امه نيټه خپل هېواد ته ستون شو.

ډاکټر حرکت لا خبر نه و چې د کابل ښاروال په توګه ګمارل شوی و. په خپله په دې اړه وايي:

«د کابل په هواي دګر کې مې واوريدل چې زه د کابل ښاروال په توګه مقرر شوی يم. باور مې نه شو کولی، خو په هماغه سبا مې په کار پيل وکړ. د کابل په ښاروالۍ کې زما د ماموريت په دوره کې عمده کار زما په فکر د کابل ښار ماسترپلان تکميلول او د قانوني سند او انستيتوت په حيث د هغې منظورول او د ډېرو پروژو تفصيلي پلانونو جوړول او عملي کول وو.»

د روسانو له يرغل وروسته ډاکټر حرکت اتلس مياشتې په کور کې کېناست او دا ورته ښه وخت و چې څېړنه او مطالعه وکړي. په دې تړاو زياتوي:

«په کور کې ناسته زما له پاره ښه فرصت و چې په فلسفه او ټولنيزو علومو کې خپلې تجربې بشپړې او خپله لومړۍ مقاله پرې وليکم، چې لومړۍ جمله يې دا وه:

«ذهنيت نسبي عينيت او هر مشخص ذهنيت عيني واقعيت دی.»

ډاکټر حرکت په کور کې د ۱۸ مياشتو پاتې کيدو وروسته په هواي قواو کې د ريس تفتيش په توګه کار پيل کړ. دغه راز په ۱۳۶۹ هجري لمريز کال کې د ډاکټر نجيب د واک پر مهال څه موده په زندان کې و او له زندان څخه تر وتلو وروسته خپل هېواد پرېښودو ته اړ شو، چې پاتې عمر يې په پرديسۍ کې د جرمني په هېواد کې تير کړ...

خداي ښښلي د روان عيسوی کال د جولای مياشت په ۲۲ مه نيټه د آلمان په اوبر هاوزن ښار کې له اوږدې مودې ناروغۍ وروسته له دې نيمګړې نړۍ سترګې پټې کړي او د همدې مياشت په ۲۷ امه

نيته د کابل په ښار کې خاورو ته وسپارل شو، د خپل هېواد د سوکالی او ابادیدو ارمان یې له ځان سره ویوړ. روح یې ښاد او جنت الفردوس یې همیشنی کور اوسه.»

کله مې چې د حرکت صاحب د ژوند په حالاتو پسې ګوګل ته سرورښکاره کړ، یوازې څو عکسونو او څو جملو سره مخ شوم او د ده خدايبښلي د مړينې خبر چې د مولانا «سعید افغاني» له خوا په دري ژبه لیکل شوی و، په مخه راغی، دا یې متن دی:

«نویسنده کتابهای «د عینیت فلسفه و سیاسی فلسفه» به حق پیوست!

داکتر سید شیر آقا «حرکت» فرزند محترم سید میاګل ولد محترم سید عبدالرزاق خان است که بتاریخ «14 قوس سال 1322 هجری شمسی» در منطقه مزاردره ولایت کونړ ـ افغانستان در یک خانواده روحانی، چشم به دنیا گشود.

داکتر سید شیر آقا «حرکت» تعلیمات ابتدائی را در مکتب مزاردره به پایان رسانید و شامل لیسه عالی ننګرهار شد و بعد از فراغت از آنجا، شامل پوهنځی طب پوهنتون کابل گردید.

داکتر سید شیرآقا «حرکت» از پوهنځی طب پوهنتون کابل؛ جهت تحصیلات عالی به شهر کیف شوروی سابق اعزام شد و بعد از سپری نمودن شش سال تحصیلات؛ دررشته علوم تخنیکی، ماستری درجه عالی سرخ و مدال طلائی را موفقانه، اخذ و به سربلندی به وطن دوباره عودت کرد.

داکتر سید شیرآقا «حرکت» ابتدا در پوهنتون هوائی نظامی به صفت استاد مقرر شد و در «26 سرطان 1352 هجری شمسی» بنابر اشتراک فعال در تغیر نظام شاهی، با کسب دو رتبه فوق العاده به رتبه جګړنی ارتقاع کرد و به صفت قوماندان هوائی نظامی مقرر شد.

داکتر سید شیرآقا «حرکت» در سال « 1355 هجری شمسی» برای بار دوم به شهر کیف شوروی سابق جهت اخذ دوکتورا اعزام شد و در انجا دوکتورای خویش را در بخش علوم تخنیکی و متعاقباً در فلسفه؛ موفقانه اخذ کرد.

داکتر سید شیر آقا «حرکت» بتاریخ «26 سرطان 1357 هجری شمسی» به وطن عودت کرد و بنابر لزومدید به صفت ریس شاروالی کابل تقرر حاصل نمود و متعاقباً در بخش های مختلف وزارت دفاع ملی وقت، ایفای وظیفه کرد.

داکتر سید شیرآقا «حرکت» بنابر شرایط وطن، مجبور شد تا بافامیلیش در سال «1990 میلادی» به کشور جمهوری فدرالی المان مهاجرت کرده و اقامت اختیار نماید.

داکتر سید شیرآقا «حرکت» شخصیت مهربان، دلسوز، عادل، اخلاصمند، علمی، فرهنگی، سیاسی و اکادمیک بود و در نویسنده گی توانای و استعداد خارق العاده داشت. دو کتاب شان بنام « سیاسی فلسفه و د عینیت فلسفه» شهرت عالی کسب کرده و همچنان نشر جریده بنام «حرکت» که نشان دهنده علاقه و فعالیت علمی واکادمیک شان بود؛ قابل قدر و ستایش میباشد.

محترم داکتر سید شیرآقا «حرکت» بنابر مریضی که عاید حال شان بود، به روز شنبه مورخ « 22 جولای 2023 میلادی » ساعت سه بعد از ظهر در شهر اوبرهوزین ـ کشور جمهوری فدرالی المان، چشم از دنیای باقی بست و جان به درگاه حق سپرد.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

قرار است جنازه مرحوم داکتر سید شیرآقا «حرکت» بنابر وصیت شان؛ به روز چهارشنه مورخ «25 جولای 2023 میلادی» از کشور المان به شهر کابل ـ افغانستان انتقال و در حظیرهٔ آبایی شان به خاک سپرده شود.

الهی!

با لطف و مرحمت خویش مرحوم محترم داکتر سید شیرآقا «حرکت» را که یک انسان وطن پرست، خیرخواه ، صالح و بادیانت بود؛ مغفرت کن، روحش را شاد و جنت فردوس را نصیبش بگردان.

امین یا رب العالمین

ارگان نشراتی صلح و تفاهم مولانا «سعید افغاني»

22 جولای 2033 میلادی»

دغه راز زه د خپلو خپرنو په ترڅ کې د ښاغلي ډاکتر شیراقا حرکت په باب له یو غږیز تدوین (Podcast) سره مخ شوم چې په دري ژبې برابر شوی دی.

هلته د ډاکتر حرکت په باب دا څو توري هم اېښودل شوي دي:

«داکتر سید شیر آقا «حرکت» شخصیت مهربان، دلسوز، عادل، اخلاصمند، علمی، فرهنگی، سیاسی و اکادمیک بود و در نویسندگی توانایی و استعداد خارق العاده داشت. در این پادکست از این شخصیت میشنوید.»

دا غږیز تدوین ټول د پنځو دقیقو او څوارلس ثانیو په چوکاټ کې د سحر تلویزیون (sahartv) له لوري برابر شوی دی. په دې غږیز تدوین کې د حرکت صاحب بیوگرافی په لنډ ډول ویل شوې ده او په ډېر لنډو جملو کې د هغه د علمي، سیاسي او فرهنگي شخصیت په باب معلومات وړاندې شوي دي. درانه لوستونکي کولای شي دا غږیز تدوین د لاندې لینک په کارولو سره واوري:

https://af.sahartv.ir/news/dari_podcast-i19125

بیا مې د کابل ښاروالۍ ویبپاڼې ته په دې موخه سرورښکاره کړ چې که هغوی د کابل ښاروال په توگه د ښاغلي ډاکتر حرکت په باب څه خپاره کړي وي؛ هلته مې یوازې د حرکت صاحب دا لاندې عکس له دې جملې سره ولید:

«انجنیر شیر آقا حرکت شاروال کابل.»



د خپلو څېړنو په ترڅ کې چې ما د ډاکتر حرکت په باب څه ولیدل او پاس یې یادونه وشوه، ټول په دري ژبه باندې برابر شوي وو. ما دا پایله تر لاسه کړه چې د دومره سترعلمي، فرهنګي او سیاسي شخصیت په باب په میډیا کې یوه جمله هم په پښتو ژبه نه ده خپره شوې؛ یا به پښتانه د خپلو واقعي خدمتګارانو په ارزښت نه پوهېږي او یا به لیکنې شوې وي، زه به د خپل غفلت په خاطر ورنه خبر نه یم.

که د د ډاکتر شېراقا حرکت په باب چا څه ولیکل او که یې ونه لیکل، د ده علمي ـ فرهنګي شخصیت هماغسې خوندي او د چیزفهمه خلکو په نظر کې درون او د قدر وړ دی. درانه لوستونکې کولای شي په لاندې عکس کې د حرکت صاحب د علمي، فرهنګي او سیاسي هڅو لنډون وګوري:




په دې عکس کې د ډاکتر شېرآقا حرکت د علمي، فرهنګي او سیاسي هڅو لنډون لیدلای شئ.

اوس به د ډاکترشېراقا حرکت د علمي ـ فرهنګي شخصیت پر هغو اړخونو لنډه رڼا واچوم چې پاس ما په نښه کړي وو:

### ـ ښوونکی حرکت:

شیراقا حرکت د خپلو فرهنګي هڅو په ترڅ کې د ښونکي په توګه هم دنده ترسره کړېده. د زکړو تر بشپړولو وروسته حرکت وطن ته راستون شو او په هوایي نظامي پوهنځي کې یې د وطن د نوي نسل د روزلو په موخه د استاد په توګه دنده پیل کړه. د تدریس په جریان کې یې د خپلو مسلکي زدکړو په چوکاټ کې د «ایرودینامک او ډینامیک د پرواز» کتاب تالیف کړ چې په ۱۳۵۲ هـ لمریز کال کې د ملي دفاع وزرارت په مطبعه کې چاپ او د لوستونکو لپاره د مطالعې لپاره وړاندې شو.

### ـ د تخنیکي علومو متخصص حرکت:

ډاکتر حرکت خپلې لوړې زدکړې د اوکراین پلازمینې کیف هوایي پوهنتون کې په تخنیکي علومو کې په ډېرې مینې سره په داسې حال کې پایته ورسولې چې په خپل مسلک کې یې د ډاکترۍ سور ډیپلوم او طلا مډال هم ترلاسه کړل او بیا یې خپلې زدکړې تجربې په وطن کې عملاً د وطن د نوي نسل د روزلو او ابادۍ لپاره په وطني مینې او صادقانه ډول وکارولې. «ایروډینامک او ډینامیک د پرواز» نومې اثر یې په تخنیکي علومو کې د یوه غوره لیکل شوي او چاپ شوي کتاب نوم دی.



**ـ فلسفي حرکت:**

ځنګه چې د ډوکتور حرکت په بیوګرافی کې راغلي دي چې ده په ټولنیزو علومو کې د زیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو په خاطر، د اوکراین د ټولنیزو علومو په دولتي پوهنتون کې شامل او تر دوه‌کاله زدکړو وروسته، اعلی درجه دیپلوم ترلاسه کړ او بیا یې په همدې برخه کې کتابونه هم ولیکل چې دا یې غوره بېلګې دي:

ـ سیاسي فلسفه، چاپ،

ـ د عینیت فلسفه، چاپ،

ـ فلسفهٔ عینیت، چاپ

ـ حرکت، د لوی تکوین او دیالکتیک فلسفه.

**ـ لیکوال حرکت:**

ښاغلي حرکت د خپلو علمي فرهنګي هڅو په ترڅ کې خپلې ټولې تجربې په لیکلې بڼه هم خپلو مخاطبینو ته د مقالو او کتابونو په بڼه وړاندې کړي دي او په دې ډول یې د قلم په برخه کې هم د خپل مسلک او وطن حق ادا کړی دی. له ښاغلي حرکت نه په بېلابېلو برخو کې ځو علمي اثار او ګڼې مقالې راپاتې دي. دغه یې د ځو کتابونو نومونه دي:

ـ ایروډینامک او ډینامیک د پرواز، چاپ،

ـ سیاسي فلسفه، چاپ،

ـ د عینیت فلسفه، چاپ،


ـ فلسفهٔ عینیت، چاپ

ـ حرکت، د لوی تکوین او دیالکتیک فلسفه.

زه د ډاکتر حرکت پر اثارو ځکه څه نه لیکم چې فلسفه او تخنیک زما مسلک نه دی، هیله ده چې د ده پر اثارو باندې مسلکي لیکوالان او نقادان لیکني او نقد وکړي.

**ـ ژورنالست حرکت:**

ښاغلي شیراقا حرکت د «حرکت» اخبار د مؤسس او مسؤل مدیر په توګه، د دې اخبار په خپرولو سره، رسماً د ژورنالیزم په ډګر کې پل کېښود او د خپلو افکارو او مرامونو د خپرولو، د افغانستان په باب د علمی فرهنګي او... مسایلو د رسولو په غرض یې د «حرکت» دوه میاشتنی اخبار د جرمني له ایسن ښار څخه خپور کړ.د دې اخبار لومړی ګڼه د ۱۳۸۳ هـ ش کال په ثور میاشت (۲۰۰۴ ام میلادی کال می میاشت) کې خپره شوه.


لویه خدایه لویه خدایه ستا په مینه په هرځایه
غر ولاړدی درناوی کی ټوله ژوی په ځاری کی
داوګړی ډیر کړی خدایه لویه خدایه لویه خدایه

بسم الله الرحمن الرحیم

# حرکت HARAKAT

علمی، سیاسی او کلتوری خپرونه

SCIENTIFIC, POLITICAL AND CULTURAL PUBLICATION

مسئول او چلونکی: داکتر سید شیراقا حرکت

لومړی ګڼه ثور / کال ۱۳۸۳ هجری شمسی — 2004 Mai میلادی

## یــــــادونــــــه

حرکت دیوی خپرونی نوم دی چی دمطبوعاتی نړی په ورشو نوی قدم ږدی. دغه نوم که پرون دشخصی یا کورنی تخلص، نن دخپرونی دنوم او سبا ته دمحترمو پوهانو او عالمانو په مشترکه مساعی سره په نوی فلسفی فکری محور، نوی علمی څېړنیز میتود او یا نوی فلسفی مکتب بدلیږی، په ټولو حالاتو کې ددغه فلسفی.فزیکی مقولی لوی جهانی بنیادی تکوینی ماهیت تل په نظر کی وؤ او اس هم پدی عقیده یو چی حرکت دنوی فلسفی طرز فکر نوم دی چی ټولی پدیدی او واقیعتونه یواخی دعلمی منطق، استدلال او مناسبتونو له مخی پرته دذهنګریو په پوره امانت دارۍ سره څیړی او دتل دپاره په علمی اصولو او قوانینو باورلری او ورته وفادار پاتی کیږی.

دانومونه به هیڅکله شخصی خانګړی اړه ونلری او ویاړ به یٔ دهغه چاپه نصیب وی چی پدی لار کی زیات زیار وګالی، زیاتی بریاوی تر لاسه کړی او د دغه فلسفی نوی طرز تفکر دقوانینو او مقولو دفورمولبندیو په سیستماتیك تشکل او دیوه نوی فلسفی مکتب دارګانیك علمی جوړښت په رامنځته کولو کی پایداره او چټك قدمونه واخلی. خو زما په عقیده د دغه ډول پدیدی هیمشه دعصر او زمان دجمعی شعور مظهر او حی علي الفلاح چیغه وی چی یوه تاریخی مرحله په بله اړوی، دولسونو دقیودا تو کړیٔ ماتوی، نوی ساه او نوی آزادی ګانی وربخښی نو ځکه یٔ افتخارات او ګټی هم عامی وی.

په حقیقت کی دغه نوی فلسفی فکری نظر هغه وخت راپیدا شو کله چی دشلمی پیړی په اتمه لسیزه کی دعینیت دفلسفی تر عنوان لاندی لمړی څینی مقالي او وروسته ددغه مقالو مجموعه په کابل کی چاپ او دپراخه ارزونی دپاره پخپله په افغانستان او پخوانی شوروی اتحاد کی علمی اکادمیکو مؤسساتو او مقاماتو ته وړاندی شوه خو له بده مرغه تر اوسه پوری پری لازم تقریظ ندی لیکلی شوی. نوموړی مقالی به دهمدغه خپرونی دلاری یو ځل بیا د یو څه تغیر او تکمیل په راوستلو سره ارزونی ته وړاندی شی ځکه دهغه وخت دشرائطو په پام کی نیولو سره په هغی کی یو څه شخصی سانسور او نرمش رامنځته شوی وؤ.

داخپرونه چی ټول سیاسی، اجتماعی او اقتصادی مسائل به په عام ډول علما څیړی خو په خاص ډول به دنوی فلسفی فکری نظر لار تعقیبوی او ځکه یٔ د " حرکت" په نامه نوموؤ چی حرکت په عالم اسباب.... ( پاتی په دریم مخ کی )

## نقش دین در سیاست

دکتور شاه ولی

درطول تاریخ اندیشه دینی درزندگی انسان نقش مهم داشته وبر شیوه عملکرد او درزندگی خصوصی و اجتماعی تاثیر و انتباه قابل ملاحظه بجا گذاشته است. دین درجوامع بدوي تقریبا یگانه منبع دانش بوده که بسوالات ذهن متجسس انسان که دربرابر نیروهای قهار وسرکش طبیعت دفاع چندانی نداشته پاسخ میگفته ودرتربیه اخلاقی وتکامل فرهنگی این جوامع تاثیر مثبت داشته است. با پیشرفت علوم طبیعی و ازدیاد اگاهی اجتماعی نقش تفکر دینی درپاسخ گوئي به سوالات مربوط بجهان مادی کاهش یافته ولی جهان معنوی وعاطفه انسانی بدون دین دچار اختلال و درهم برهمی کلی میگردد. یکی از علل بحران معنوی در دولت های کمونستی گذشته که درآنها نقش مثبت دین درجامعه مورد انکار و پیروان ادیان تحت پیگرد قرار میگرفت، همین بود. ادیانیکه به پرستش خداي یگانه معتقدند درایجاد و تثبیت هویت ملی بسیاری از کشورها نقش برازنده داشته اند.

دولت فعلی اسرائیل به اساس دین یهود تشکیل شد. این حقیقت که تعداد علما و دانشمندان یهود به تناسب تعداد پانزده میلونی پیروان آن خیلی ها زیاد میباشد ناشی از آنست که دردین کلیمی آموزش سواد براهی همه یك امر حتمی وضروری میباشد. درجوامع مدرن غربی عنعنات عیسویت دراشکال ویژه آن در برنامه های احزاب سیاسی انعکاس یافته است....... بقیه درصفحه سوم

## ناسیونالیزم، انترناسیونالیزم، گلوبالیزم، کسموپولتیزم ...

داکترحرکت

څینی کسان پدی باره کی دخپلو پخوانیو تعلقاتو، ملی او وطنی مسئولیتونو او مناسبتونو ته په شاا ړولو سره دخپلی وطني او اولسی ماضی ټوله نقده نپوهیږم په شعوری یا غیر شعوری ډول دګلوبالیزم دنسیه شعار په لویه کی په یوه دوږدی او خپل دغه روش او "جرئت" دنوی عصر دشعار سره دمطابقت په دلیل سم عمل او دتیروهیر دهوښیاری نښه ګڼی!!!

زما په نظر دغه ډول موضوعات تل دشك څخه ډك او دتأمل وړ وی ځکه می وغوښتل دهغی په مبادیو او القباء باندی نه دتحلیلی مقالی په شکل بلکه دیوی یادآوری او ګوتی نیونی په توګه بحث وکړم او بعدی ژوره څیړنه یٔ محترمو پوهانو ته وسپارم تر څو زمونږ خوانان په راتلونکی کی...... پاتی په څلورم مخ کی

په خپله ډاکټر شيراقا حرکت د دې اخبار په باب خبرې کړې دي او د اخبار موخه، کړنلاره او پاليسۍ يې داسې بيان کړي دي:

«حرکت د يوې خپروني نوم دی چې د مطبوعاتي نړۍ په ورشو (کې) قدم ږدي. دغه نوم که پرون د شخصي يا کورني تخلص، نن د خپروني د نوم او سبا ته د محترمو پوهانو او عالمانو په شريکه هڅه په نوي فلسفي فکري محور، نوي علمي څېړنيز ميتود او يا نوي فلسفي مکتب بدلېږي.

په ټولو حالاتو کې د دغه فلسفي ــ فزيکي مقولې لوی جهاني تکويني ماهيت تل په نظر کې و او اوس هم په دې عقيده يو چې حرکت د نوي فلسفي طرز تفکر نوم دی چې ټولې پديدې او واقعيتونه يواځې د علمي منطق، استدلال او مناسبتونو له مخې پرته د ذهنيگريو، په پوره امانتدارۍ سره څېړي او د تل د پاره په علمي اصولو او قوانينو باور لري او ورته وفاداره پاتې کېږي...

د «حرکت» خپرونه چې ټول علمي، سياسي، ټولنيز او اقتصادي مسايل به په عام ډول علماً څېړي، خو په خاص ډول به د نوي فلسفي فکري نظر لار تعقيبوي؛ نو ځکه يې د حرکت په نامه نوموو. «حرکت» نوی تېزس دی...

په دې وروستيو وختو کې په افغانستان او د هغې د باندې ډېرې خپروني خپرېږي. هغه څوک چې په ايماندارۍ سره دغه کار سرته رسوي، موږ يې هرکلی کوو. د دغو خپرونو په سرخطونو کې معمولاً ليکل کېږي: بې‌طرفه، ازاده، مستقله، ملي، اسلامي او داسې نور. موږ ټولې دغه ډول پديدې نسبي گڼو، ځکه د لومړۍ ورځې څخه وايو چې موږ هېڅکله بېطرفه نه يو. موږ ټاکلی او مشخص هدف، طرف او ارمان لرو. زموږ طرف د هرڅه د مخه زموږ گران هېواد افغانستان دی، افغان اولس، د هغوی ملي‌گټې، منلي رسوم، عنعنات، عقايد او مقدسات او وروسته له هغې بين‌المللي او عام انساني تعلقات او تعهدات دي چې په پوره ايماندارۍ سره به د هغې پلوي او دفاع کوو او نور به هم دې کار ته اړباسو.

د ازادۍ، استقلال او ملي موقف په باره کې زموږ نظر دا دی چې د قضا او قدر د عام قانون له مخې، مطلق مختار او مطلق مجبور وجود نه لري او هراولس، هردولت او هرڅوک پرته له امتياز څخه مجبور او مکلف دي يو شان بين‌المللي عامه نظم، منل شوو تعهداتو، قوانينو او نورماتيفونو ته غاړه کښېږدي، د سرغړونو په صورت کې به زمونږ دريز د هميش د پاره متقابل وي.

د ملي او بين‌المللي تناسب په سيالۍ کې به زمونږ موضيعگيري د تل د پاره د بين‌المللي اصولو او قوانينو په نظر کې نيولو سره ــ سره د ملي موقف څخه د کلکې دفاع په طرف وي.

اسلام زموږ د افغانانو او د يوه ميليارد څخه زياتو مسلمانانو برحق دين دی. په هغې پابند او کلک معتقد يو. د نورو اديانو د پلويانو درناوی کوو او په مقابل کې يې د جبر او زور استعمال روا نه بولو او يواځې د وما علیناالاالبلاغ اصل او حکم ته معتقد يو، خو هغه څوک چې په ناروا او سپين‌سترگتوب سره تروريزم، بنيادگرايي او يا بل هرډول خرافات د اسلام د نوم سره تړي او په دې بهانه خپل ناروا سياسي اهداف پرمخ بيايي زموږ د پاره هېڅکله د منلو وړ ندي او په دې باره کې سپيناوی خپله ملي او اسلامي دنده بولو.

موږ افغانستان د ټولو افغانانو گډکور بولو او کومې دوښمنۍ او بې‌اتفاقۍ چې د مغرضو هېوادونو او د هغوی د بړېڅو له خوا د ورونو قومونو ترمنځ ايجاد شوي د هغې د له منځه وړلو او د وروړۍ د باوري فضا د رامنځته کولو د پاره به هڅې کوو.

موږ په دې کلک باور لرو چې د افغان اولس خوشبختي، پرمختگ او پايښت په ملي وحدت کې دی، هغه به د سترگو د کسي په څېر د بين‌الافغاني او بين‌المللي منل شوو اصولو له مخې په پوره ايماندارۍ

او تقوا سره ساتو.

موږ د ګاونډي، اسلامی او د نړۍ د ټولو هېوادونو سره د بین‌المللی قوانینو او اصولو سره سم سیال مناسبات او دوستي غواړو او په دغه اصولو پابندي خپل ملي، اسلامي او بین‌المللي مسؤلیت او دین ګڼو او د مقابل لوري څخه هم همدغه ډول تقاضا لرو.

موږ په بین‌المللي منل شوو قوانینو، اصولو، تعهداتو، منشورونو، پرېکړو... باندې د ټولو لویو او وړو هېوادونو یو شان پابندي غواړو او دا کار د بین‌المللي نیکو اړیکو، د تروریزم له منځه وړلو او نړیوالې سولې د تأمین عمده او اساسي اصل او پواځینی ضامن ګڼو.

دا خپرونه به په عمده ډول په پښتو او دري ژبو خپرېږي او تناسب به یې پواځې په دې پورې اړه ولري چې څوک څومره او په کومه ژبه خپلې لیکنې کوي او موږ ته یې سپاري . هغو لیکوالانو ته چې زمونږ فکري لار په خپلو لیکنو کې په نظر کې نیسي او یا په انتقادي ډول مونږ سمې لارې ته رهنمایي کوي، مخکې له مخکې کوروداني وایو او د زړه له کومې مننه ورڅخه کوو.»

(حرکت، ډاکتر سید شېراقا، د عینیت فلسفه، چاپځای: اسددانش مطبعه، کابل، لومړی چاپ، ۱۳۹۰ل/ ۲۰۱۱ز کال، ۵۱ ـ ۵۵ مخونه)

### د «حرکت» خپرونې د ځینو قلموالو نوموونه:

له «حرکت» خپرونې سره ګڼو داسې لیکوالو همکاري کوله چې اکثریت یې د پي اچ ډي په کچه د لوړو زدکړو خاوندان، یا د لوړ نوم او ښه شهرت لرونکي دانشمندان او نوموتي قلموال وو. د «حرکت» خپرونې هغه ګڼې چې له ماسره خوندي دي، د هغو له مطالعې نه ما ته پته ولګېده چې قلمي همکاران یې د څومره ژورې مطالعې او غني تجربو لرونکي قلموال دي. د څو تنو نوموونه یې دا دي:

ـ ډاکتر شیراقا حرکت،

ـ دوکتورصلاح‌الدین سعیدي،

ـ ډاکتراصغرخیل منګل،

ـ ډاکتررحمت‌ربي زیرکیار،

ـ دوکتور، م، ع روستار تره کي،

ـ ډاکتردرمانګر،

ـ ډوکتورشاه‌ولي،

ـ دوکتور سیداشرف مراد،

ـ محمدرحیم یوسفي،

ـ امین‌الدین سعیدي،

ـ م. ح بارق شفیعي،

ـ حسن مسرور،

ـ میرزامحمد برهاني کونړی،

ـ اکادمیسین کاندید محمدظاهر افق،

ـ دوکتور سید حمیدالله روغ،

ـ سیدسلیمان اشنا،

ـ ډاکتر مسعود مرادزی او نور.

«حرکت» اخبار سره له دې چې په دوو میاشتو کې یوځل خپرېده، خو د مخونو شمېر یې دا ښیي چې د دې خپرونې هرې ګڼې د یوې رسالې بڼه درلوده. کومې ګڼې یې چې زما له نظره تېرې شوې دي، د مخونو شمېر یې داسې دی:

ـ ۱۹ مه ګڼه، ۲۰ مخونه،

ـ ۲۰ مه ګڼه، ۲۴ مخونه،

ـ ۲۴ مه ګڼه، ۲۸ مخونه،

ـ ۲۸ ـ ۲۹ مې ګڼې، ۲۸ مخونه،

ـ ۳۲ مه ګڼه، ۲۵ مخونه،

ـ ۳۳ مه ګڼه، ۱۸ مخونه.

د دې کرښو د لیکلو په برخه کې مې د ښاغلي شېراقا حرکت د درنې کورنۍ له غړو نه د مرستو غوښتنه کوله، د همدې مرستو په لړ کې د ده خدابښلي زوی ښاغلي اباسین حرکت د ۲۰۲۳ ام کال د اکتوبر په ۱۵ مه نېټه د «حرکت» اخبار لاندې ګڼې پی‌ډي اف بڼه ما ته د مطالعې لپاره راولېږلې:

ـ ۱۹ مه ګڼه،

ـ ۲۰ مه ګڼه،

ـ ۲۴ مه ګڼه،

ـ ۲۸ ـ ۲۹ مې ګڼې،

ـ ۳۲ مه ګڼه،

ـ ۳۳ مه ګڼه،

د اخبارونو او کتابونو د رالېږلو په خاطر ما (آصف بهاند) له ښاغلي اباسین حرکت نه د مننې په دود داسې ورته ولیکل:

«اباسین کرکت ته سلامونه او نیکې هیلې! ستاسو له علمي ـ فرهنګي مرستو نه ډېره مننه. زه به ستاسو د بزرګوار پلار د ښې پېژندنې له پاره د اخبار دا ګڼې مطالعه او له موادو نه یې په استفادې سره د وطن د حقداره عالم شخصیت ډاکتر شېراقا حرکت د علمي فرهنګي کارنامو د معرفي په برخه کې استفاده وکړم.

بریا مو په برخه!»

په «حرکت» خپرونه کې د فلسفي، سیاسي او علمي مطالبو تر څنګ د ځینو شاعرانو شعرونه هم خپرېدل چې د دغو ښاغلو شعرونه زما له نظره تېر شوي دي:

ـ پیرمحمد کاروان، په ۳۲ مه ګڼه کې،

ــ اقبال لاهوري، په ۳۳ مه گڼه کې،

ــ بارق شفیقي، په ۱۹ مه گڼه کې،

ــ بهاالدین مجروح، په ۲۰ مه گڼه کې

ــ عیسی بهرام، په ۲۸ ــ ۲۹ مه گڼه کې،

ــ سلیمان اشنا، ۲۴ مه گڼه کې.

«حرکت» خپرونه له یو غنمیت او پاملرنې وړ علمي ــ فرهنګي کار او فعالیت نه وروسته له خپرېدو پاتې شو. د اخبار د بندېدو یوه وجه دا ښوول شوې ده چې له یوې خوا د «حرکت» اخبار د تخنیکي همکارانو د کار د ساحې د لرېوالي په وجه، ښاغلی حرکت ټولو کارونو ته یوازې پاتې شو او له بلې خوا په همدې وخت کې دی د خپلو ځینو کتابونو په لیکنه او سمونه هم بوخت و او ترټولو مهمه دا چې د ده صحي وضعي هم اجازه نه ورکوله چې د نورو کارونو ترڅنګ د «حرکت» اخبار کارونه پرمخ بوزي.

د ښاغلي دوکتور شبراقا حرکت د علمي ــ فرهنګي شخصیت او اثارو په باب د نورو پوهانو نظریات:

ډاکتر شاه‌ولي:

«کله چې په ۱۹۸۷م کال کې له زندان څخه راخلاص شوم، د محترم ډاکتر حرکت د «عینیت او ذهنیت دیالکتیک» زما لاسته راورسېد، چې په ډېر دقت سره مې هغه ولوست او وپوهېدم چې د افغان لیکوالو په منځ کې یو لیکونکی پیدا شوی چې توانېدلی یوډېر ژور اثر په فلسفې کې ایجاد کړي.

بیا کله چې تر ډېرو کلونو وروسته ډاکترصاحب حرکت د جرمني په ایسن ښار کې خپله نشریه «حرکت» خپره کړه او ما ته یې د مطالعې لپاره راولېږله، پوه شوم چې د ډاکتر صاحب علاقمندي د فلسفې د لیکلو سره لاپاتې ده...

زما په اند په فلسفي موضوعاتو کې لیکنه بې‌ګټې نه ده او د حرکت صاحب لیکنې د سولې فرهنګ په تقویه کې ډېر ارزښت لري...

هیله کوم چې دا اثر زموږ د ګران‌هېواد نور دانشمندان وهڅوي چې لکه ډاکترصاحب غونډې په خپلو تخصصي ساحو کې ورته اثار هېوادوالو ته وړاندې کړي.

په پای کې ډاکتر صاحب ته په فرهنګي فعالیتونو کې لازیات بریالیتوبونه غواړم.

ډاکترشاه‌ولي
جنوري ۲۰۰۹

(حرکت، ډاکتر سید شبراقا، د عینیت فلسفه، چاپځای: اسددانش مطبعه، کابل، لومړی چاپ، ۱۳۹۰ل/ ۲۰۱۱ز کال، ۱ ــ ۲ مخونه)

**عبدالکریم میثاق:**

کارهای ثمربخش فرهنگي یکی از اهل اندیشه و قلم وطن محبوب ما افغانستان محترم داکترشیراقا حرکت قابل یادآوري وقدردانی است. ازچند سال بدینسو جناب داکتر حرکت، نشریهٔ را به نام «حرکت» چاپ و نشر می نماید. همه اهل فرهنگ و قلم میدانند که چاپ و نشر یک نشریه به خصوص در شرایط افغانستان و درمیان افغانها کار بسیار فرساینده و دشوار است. ار اینکه داکتر حرکت درین چندسال توانسته که نشر «حرکت» را ادامه دهد قابل ستایش است. این ستایش زمانی درخشانتر میشود که وی با ایجاد این کار عملی فرهنگي توانسته است سایر فرهنگیان محترم را هم

به کار وادارد و اندیشه های بکر شانرا نقش «حرکت» نماید. به عبارهٔ دیگر نه تنها خودش را، بلکه جمع دیگری از اهل فکر و قلم را نیز به حرکت درآورده است.

داکتر حرکت زیاد به مسایل فلسفی می اندیشد و این پرسش های فلسفی را در برابر انسان مطرح میسازد: که ما کی هستیم، ازکجا آمده‌ایم و به کجا میرویم؟ پرسشهایکه از طرف اهل ادیان، عرفان وعلم پاسخهای گونه ـ گونه ارایه شده است...


مقاله های جناب داکتر حرکت که به نوع خود در زبان پشتو بی‌مثال است خدمت بزرگیست هم از نگاه زبان و هم از نگاه موضوع. مخاطبان داکتر حرکت با مطالعات آثار جالب وی می توانند از نگاه شکل و مضمون آگاهی خود را بلند ببرند و در جهت رهایی از اسارت معنوی و مادی گامهای استواری بردارند...

آثار جناب وی به نقد اکادمیک ضرورت دارد که بایست توسط کارشناسان و متخصصان علم فلسفه انجام شود.

از نگاه من کارهای علمی و فرهنگی او برای بیداری و رهایی مردم افغانستان مفید می‌باشد و از افریدگار عالم تمنا دارم که برایش درین راه موفقیتهای روز افزون عنایت فرماید.

(حرکت، داکترشیراقا، فلسفهٔ عینیت، ناشر: دانش خپرندویه تولنه، ۱۳۰۷ل/ ۲۰۱۸ز کال، ۸ ـ ۱۳ مخونه)

کېدای شي چي له ډاکتر حرکت نه ځيني داسي ليکني، ياداشتونه يا کتابونه پاتي وي چي تراوسه د چاپ ډگر ته نه وي راوتلي، که هڅه پسي وشي داسي هم کېدای شي چي «د ډاکتر حرکت ناچاپ ياداشتونه» نوم ورکړی شي او د ده د مينه‌والو د لوست لپاره وړاندې شي دا به ډېره ښه خبره وي.



د ډاکتر شېراقا حرکت په سینه کې د خپل وطن، خلکو او ټولې نړۍ د نیکمرغی او پرمختګ لهپاره یو زړه ټپېده، خو دا زړه د ۲۰۲۳ ام میلادي کال د جولای پر دوه ویشتمه نېټه ودرېد او دی له خپلو نیمګړو ارمانونو سره خاورو ته لاړ، مرګ حق دی او د هرچا د کور ترمخي دا اوښ ګونډه وهي؛ خو د خواشینی خبره دا ده چې زموږ پرخلکو او ټولنه باندې د خپلو خدمتګارانو د نه درناوي دود حاکم دی او د همدې ناوړه دود په پیروۍ سره د ډاکتر شېراقا حرکت غونډې علمي ـ فرهنګي شخصیت درناوی هم هغومره چې ښایي، و نه شو. د ده علمي ـ فرهنګي کارونه هغومره چې باید ځلول شوي وای، و نه ځلول شول.

ما دا پاسنی کرښې د دې موخې لپاره ولیکلې چې د ډاکتر شېراقا حرکت د څو اړخیز علمي فرهنګي شخصیت ښېلاښېلې برخې په ډېر لنډ ډول وښیم او خپلو هېوادوالو ته دا ورپه یاد کړم چې باید د وطن او خلکو د خدمتګارانو ستاینه او درناوی وشي. دا په نښه شي چې د ډاکتر شېراقا حرکت غونډې علمي فرهنګي شخصیت ترسره کړي کارونه څومره د نویو نسلونو په روزلو کې رول لري او څنګه یې باید قدردانی وشي.




**ډاکتر سید شېراقا حرکت دې خدای وبښي!**

**یادونه او فکرونه دې یې تلپاتې او**

**د نویو نسلونو د لارې ډیوې وي!**

پای

**www.dawatmedia24.com**